راته ووايه، كه فرضي لمونځونه وكړم، د رمضان روژه ونيسم، حلال حلال وګڼم او حرام حرام

د ابی عبدالله، جابر بن عبدالله الأنصاري رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: یو سړي له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل او ویې ویل: راته ووایه، که فرضي لمونځونه وکړم، د رمضان روژه ونیسم، حلال حلال وګڼم او حرام حرام، او له دې نه زیات نور هیڅ ونه کړم، آیا جنت ته به داخل شم؟ هغه وفرمایل: «هو».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي كه چېرته يو څوک پنځه فرض لمونځونه اداء کړي او هيڅ نفل ورسره ونه کړي او د رمضان روژه ونيسي او ثوابي روژه ورسره ونه نيسي او د حلالو په روا والي ايمان ولري او تر سره يې کړي، او د حرامو په ناروا والي ايمان ولري او ډډه ترې وکړي، هغه به جنت ته داخل شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66525